شهسوار سنګروال ۲۰۱۶/۰۷/۱۲

# پوهاند ډاکتر محمد حسن کاکړ کتاب ته یوه کتنه:
# "د پاچا امان الله واکمنۍ ته یوه نوې کتنه"




تاریخپوه پوهاند ډاکتر محمد حسن کاکړ تر اوسه پورې لسګونه توکه کتابونه لیکلي او ژباړلي دي، چې د دغو کتابونو په لړ کې یو کتاب هم د پاچا امان الله واکمنۍ ته یوه نوې کتنه نومیږي. پوهاند کاکړ د دغه اثر د بشپړولو لپاره له ګڼو لاسوندونو ګټه اخستې ده.

"د پاچا امان الله واکمنۍ ته یوه نوې کتنه" کتاب مې یو ځل د مخه هم لوستی و، خو دا ځل مې وپتییله چې په لنډه توګه پرې یو څه ولیکم.

دغه کتاب له پایلیکونو او لمنلیکونو سربېره دیارلس سرلیکونو ته ځانګړی شویدی. لیکوال د سریزې او پیلامې تر سرلیکونو لاندې د افغانستان له لرغوني تاریخ نه راواخله تر راوروسته پورې یو شمېر ځرګندونو ته تم شویدی، خو د کتاب مېنځپانګه بیا د امان الله پاچا کېدل تر سرلیک لاندې پیلیږي. په دغه سرلیک کې د امیر حبیب الله د وژل کېدو، لاملونو ته ګوته نیول شوې ده ولې د کتاب په اتلسم مخکې د کتاب له تندي لاندې د پاڼي په ملا کې، د امان الله خان د یوه تت انځور تر څنګ کښل شویدي: "د بشپړې خپلوکۍ جګړه" پوهاند کاکړ تر همدې سرلیک لاندې جوخت داسې کاږلي دي:

"پاچا امان الله د فبروری په ۲٤ مه د کابل د مرادخانی په یوه میدان کې، چې هلته خلک او عسکر راټول شوي وو، په یوازې ځان ځرګند شو او د هغو په مخکې د هیواد بشپړه خپلواکي او د ټولو خلکو آزادي او برابري اعلان کړه ."



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

همدا راز د مارچ په دریمه یې د هند وایسراي ته د پلار د وژل کیدو او د ځان د پاچا کیدو خبر ورکړ... د اپرېل په دیارلسمه یې د یوې اوږدې وینا په ترڅ کې برتانوي ایجنټ، حافظ سیف الله ته مخ واړوه او په نرمه یې ورته کړ، او سفیره، ته پوه شوې چې ما څه وویلی؟ هغه د هو ځواب ورکړ.
د امان الله خان پرلپسې کړنې او څرګندونې بریتانوي ښکیلاک ته د پام وړ نه وې او د پاچا دغه عمل یې د خپلو ګټو لپاره یو ستر ګواښ ګڼله.
د افغان ټولواک ژبه به نرمه وه، ولې کینکلې وه، سره د هغې چې انګرېزانو د افغان او انګلیس په جګړو کې د سر او مال درانه زیانونه ګاللي ول ولې بیا هم له افغانستانه یې سترګه نه سوه ځیده او وروسته پاتې هیواد یې ګڼه. هغه د "لودویک ادمک" خبره، انګریزانو د امان الله خان د لیک په ځواب کې د "اپرېل ۱۵ نیټه" همدومره لیکلي ول موږ د امیر د وژلو له بابته خپله خواخوږي څرګندوو...
له پاچا سره دا د برتانوي هند د دښمنی پیل نه و، بلکې دښمني له هغې نیټې په ډاګه شوه چې نوموړي د خپلواکي اعلان وکړ. دغه اعلان انګرېزانو ته ځکه د ځغم وړ نه وو چې دهند په نیمه وچه کې هم آزادي بښونکو غورځنګونو او خوځښتونو زور اخستی وو.
پوهاند صاحب د خپل کتاب په یویشتم مخ کې د "ګریګو رېین" له انده کښلي دي چې "په ۱۹۱۹کې هیڅ واکمن نشوکولی په افغان ملت باندې په ټینګه حکومت وکړي، خو دا چې د پوره خپلواکی لپاره یې ژمنه کړې وې."
د افغانستان پاچا امان الله په ځیرکتیا د افغانانو هوډ ځانته څرګند کړی وو، چې دوي غواړي له برېتانوي ښکیلاکه خپله خپلواکي تر لاسه کړي.
د پاچا د خپلواکۍ هڅې پداسې مهال پیل شوې چې رښتیا هم دهند په نیمه وچه کې د انګرېزانو پر وړاندې کرکه هغه مهال زیاته شوه چې په ۱۹۱۹یې د اپرېل په میاشت کې د امرتسر پېښه را مینځته شوې وه او پدغه پېښه کې په سلګونو کسان وژل شوي او ټپیان شوي ول.
په دې سره جنرال ریګینالد له دندې ګوښه شو او د هند د ملي آزادي بښونکو غورځنګونو هڅې لا چټکې شوې. په مینځنی آسیا کې هم بلشویکانو د وسلوالو بریدونو پر مټ او د یوځي ځواک په کارولو سره خپل ځواک ته پراختیا ورکوله چې دې سره په سیمه کې دځواک او واک اندول د ګواښ سره مخ وو... له ترکیې نه د مصطفی کمال دفاع په سیمه کې یو بل ستر بدلون وو... او لا هغه مهال چې پاچا امان الله د خپلواکی ناره پورته کړه، دا یو بل ګوزار وه چې انګرېزان یې ولړزول.
دا ټولې هغه پیښې وې چې د برتانوي هند واک یې له ګواښ سره مخ کړ.
پوهاند داکتر محمد حسن کاکړ په دې تړاو چې انګریزان دې ته ژمن نه ول چې د افغانستان خپلواکي ومني، پخپل کتاب کې دې ټکي ته دا سې ګوته نیولې ده:

دا دوي ته څرګنده شوې وه چې امان الله خان د دوي دښمن دی، چې له یوې خوا یې په هیواد کې د دوي خلاف د جګړې اعلان وکړ، او له بلې خوا هند کې لمسوني کوي. دریمه لویه خبره دا چې په افغانستان کې د هندي انقلابیونو شتون و چې آن ګرانت افغان پلاوي ته په ځغرده وویل:
افغان حکومت باید هندي انقلابیون له خپلې خاورې وباسي ...
یو شمیر لیکوال داسې انګیرې څنګه چې امان الله خان د انګرېزانو دښمن وو نو ځکه خو یې له شوروي سره اړیکې ډېرې دوستانه وې.

لا یو شمیر په دې اند ول، په ځانګړې ډول کېن اړخو په دوستی کې دی د شوروي دوست باله او ښي اړخو له امان الله سره په دښمنی کې دی د شوروي دوست ګڼڼه. ولې پوهاند صاحب په خپل کتاب کې دې ټکي ته داسې اشاره کړېده:
امان الله په دې فکر و چې بلشویکان له بخارا نه د "انور پاشا" له لاسه ایستل کیږي. له هغه سره یې د وسلو او رضاکارانو مرسته وکړه او د تنظیمي رییسانو په نومونو یې "جنرال محمد نادرخان" د قطغن، "شجاع الدوله" د هرات او د عدلي وزیر "محمد ابراهیم" مزار ته واستول. په هغو سربیره افغاني افسران یې په ملکي جامو کې "انور پاشا" ته او یوه وړه نظامي قوه یې بخاراته واستوله

• • •

یو شمیر بهرني څیرونکي هم دا مني چې بلشویکان په دې پو شوي ول چې افغانان په مینځنی آسیا کې د دوې پر وړاندې لمسوني کوي، له دې سربیره شوروي او برتانوي هند ته هم په ډاګه شوې وه چې امان اله خان د کنفډریشن د جوړېدو هڅه کوي. څرنګه چې دواړو ښکیلاګرو (برتانیه او شوروي) هیوادونو ګټې شریکې وې، نوځکه یې یو په بل داسې غرض نکوه چې خپلې ګټې وګواښي. لکه امان الله خان چې له برتانوي چارواکو وغوښتل چې بخارا او خیوه په رسمیت وپیژني اوهم ورته وسلې ورکړي چې د افغانستان له لارې ور ورسیږي ... ولې انګریزانو دا و نه منله. او د؛ "اقابکوف"؛ څرګندونو له مخې د "پنجده" مسأله هم د شوروي هغه سیاست وو چې له یوې خوا یې ژمنه کړې وه چې بیر ته به یې افغانستان ته سپاري او له بلې خوا یې څار کرو د "پنجده" وګړي ځورول او دېته یې هڅول چې ورته ووایي چې ګني موږ پخپله نه غواړو له وروسته پاتي هیواد افغانستان سره یو ځای شو ... له یادو څرګندونو نه په ډاګه کیږي چې افغان ټولواک هم د شوروي اتحاد او هم د برتانویانو د سترګو ازغی وو، ولې دواړه هیوادونه پدې لټه کې هم ول چې د یو شمیر فشارونو له مخې افغان پاچا د ځان پلوی کړي.
لکه څومره چې ښکاره وه له برتانیي سره د امان الله نږدې کیدل ناشونی کار و، دا ځکه چې پاچا د خپل هیواد له بشپړې خپلواکۍ تیرېدی نشو، او انګریزانو هم هڅه کوله چې با چا کمزوری کړي نو ځکه یې دده پر وړاندې لمسوني کولې.
ډاکتر صاحب کاکړ ددې لمسوني په تړاو په خپل کتاب کې داسې کاږلي دي:
"پاچا امان الله لویې جرګې ته دغسې شواهد وړاندې کړي ول، چې د هغه له مخې په افغانستان کې دیوبندي ملایان د یوه باندیني ځواک په لمسه (برتانوي هند) پا روني کولې".
دا چې ډاکتر "ادمک" انګیري ۱۳۸ مخ چې ما د برتانوي او د هند د حکومت د رسمي پاڼو او راپورونو له مخې داسې کومه لیکنه نده لیدلې چې انګریزانو به د پاچا امان الله په نسکورولو کې لاس لرلی وي، او دا چې د پاچا امان الله خان بنستیزو سمونونو بنستیز عکس العمل تولید کړ، دغه څرګندوني د تأمل وړدي.
لومړی دا چې "لودویک ادمک" څه، په سلګونو څیرونکي د ده په څیر چې د برېتاني او هند رسمي لا سوندونه، ملي آرشیف ونه، کتابتونونه، ننداړتونونه، رسمي دفترونه، د کورنیو او بهرنیو چارو وزارتونه، ګالري ګانې موزېمونه ... عمرونو عمرونو وګوري د دغو پاڼو یو ګودام هم نشي تمامولی. زه چې په پرلپسي توګه دا نږدې شل کاله دبرتیش کتابتون په ګډون دبرتانیي ملي آرشیف ته تللی یم او یا مې په پر لپسي توګه ننداړتونونو کې برخه اخستې ده... ما د داسې کتابونو باري او د داسې پاڼو درمندونه لیدلي دي چې سړی ورته ګوته په خوله کیږي.
آیا ډاکتر "ادمک" د جنرال مالیسن Malleson هغه څرګندوني هیرې کړیدي چې برتانوي چاروکو ته یې په ځغرده وویلې که موږ غواړو چې د شوروي د پرمختګ مخه ډب کړو غوره به وي چې د افغانستان او شوروي تر مینځ

اړيکي خړې پړې کړو؛ وګورئ Wilfred Malleson,January ۲٤,۱۹۲۲ The British military mission to turkistan۱۹۱۸/۲۰ royal central Asian journal ,volume ,۱۹۲۲Numbers ... دی وايي (مليسن) کله چې افغان ځواکونو له کشک نه مروې لورته پرمختګ وکړ ما ډېر زر ځان بلشويکي څارګرو ته خبر ورکړ. هغوی هم يو پلاوی مروې او عشق آباد ته واستوه... بيا مې د هرات چارواکو ته د پيښې خبر ورسوه.

له يوې خوا شورويانو او له بلې خوا برتانويانو، د افغانستان پر وړاندې له د ښمني ډک چلند غوره کړی و. د بېلګې په توګه، هغه مهال چې افغان ټولواک شوروي ته سفر وکړ، د جي پي يو GPU څارګرې ادارې د روسيې له نامتو جنرال "سامو ييلوف" زوې چې په پارسي ژبه پوهيده دې ته وګماره چې افغان واکمن شيبه په شيبه وڅاري. افغان پلاوي داسې فکر کاوه چې هغه يوازې په روسي ژبه پوهيږي.

برتانوي چارواکو هڅه کوله چې امان الله خان د اميرحبيب الله او امير عبدالرحمن خان په څير دې ته اړ کړي چې يوازې په دوی ډډه ولګوي او کنه و به پرځول شي. د ساري په توګه برتانوي چارواکو په ايټاليې، فرانسې، امريکې او په نورو هيوادونو فشار راووړ چې د افغانستان نړيوال باور له ماتې سره مخ کړي. ان دا چې انګرېزانو د امان الله د خور په نوم يوه جعلي ميرمن چې فاطمه سلطانه نوميده امريکې ته واستوله چې د افغان واکمن واک او ځواک بې باوره کړي.

همدا ډول پوهاند ډاکتر محمد حسن کاکړ پخپل ياد کتاب کې کرنيل "تي.اې لارنس" چې د عربستان لارنس په نوم يادېده، يادونه کړېده.

دغه "لارنس" هغه څوک دی چې د برېتانيې د نورو څارګرو په څير يې د واکمن پاچا پر وړاندې د ملا په جامه کې وګړي دهغه پر وړاندې پاڅون ته راپارل.

"ستيوارت" Stewart چې د کومې شهزادګۍ له پيښې پلو پورته کړيدی او يا نورو کورنيو او بهرنيو څيړونکو په دې تړاو کومې څرګندونې کړېدي، له "مليسن" نه را واخله تر "لارنس" پورې کومو ګڼو برتانوي څارګرو چې د افغانستان د کورنيو دښمنانو پر مټ د افغانستان د ځوان حکومت د بې ثباته کولو او پرزولو لپاره کومې هڅې کړېدي تاريخ ترې سترګې ندی پټې کړي.

د افغانستان د کورنيو دښمنانو لړۍ ان تر سلطنتي درباره هم راغوځيدلې وه، چې دغو درباريانو له برتانويانو په ځانګړې توګه له برتانوي څارګرو سره په ګډه له افغان ټولواک سره د دښمنۍ په پلمه افغانستان د بربادۍ کندې ته وغورزوه ...

"ستيوارت" په ځغرده ويلې دي چې: برتانوي چارواکي پدې پوهيدل چې دوې له افغاني سردارانو او درباريانو سره څه ډول چلند وکړي؟

هغه مهال چې "لارډ رابرتس" په کابل کې وو له افغاني سردارانو او درباريانو سره په ډېر ادب او درنښت غږېده، ان په اداري چاروکې له دوی سره سلا کوله. موږ د ساري په توګه د امان الله خان يوه نامتو سردار شير احمد خان يادولی شو چې د برتانيې سفارت له يوه استازي (مکو نا چي) سره د سپتمبر په ۱۷ نيته ۱۹۲٤ کال وليدل. نوموړي نه يوازې، هغه ته يو شمير پټ اسناد ورکړل، بلکې د پاچا او محمود طرزي په کړو وړو يې هم نيوکه وکړه.

د همدغو کورنيو او بهرنيو لاسوهنو پايله وه چې د مکوناچي په څير استازو نيغ په نيغه د پاچا امان الله د واکمنۍ د ځپلو لپاره لارې چارې لټولې، او بيا همدغه کورني لاسپوڅي ول چې د خوست او شينوارو پاڅونونو ته يې لاره پرانسته.

استاد کاکړ د خپل کتاب په ۱۳۸ مخکې د تاريخپوه غبار له قوله راخستي دي:

"اينکه ناکامي مرحله دوم ريفورم حکومت امانيه را بعضاً تنها نتيجه مخالفت اقليت فيودال و روحاني و يا توطئه و مداخلت يک دولت خارجي می دانند تماماً منطبق با حقيقت نيست؛ غبار ۷۸۹ مخ."

همدا راز میر غلا محمد غبار د شینوارو د پاڅون لامل د کوچیانو او دسنګو خیلو یو نښته ګڼي چې د جلال آباد حکمران د شینوارو شکایت ته غوږ ونه نیوه، نو هغو پاڅون وکړ...
کپتان رابنسن Captaln.j.A.Robin son افغاني کوچیانو د نقش په تړاو یو ګټور کتاب کښلی دی چې د دوي رول یې د افغانستان په سوداګریزو هڅو کې ستایلئ دی؛Nomad merchants who trade between india and Afghanistan؛ د همدې بنسټ له مخې د کوچیانو یو کاروان د نوامبر په میاشت کې ۱۹۲۸کال هندوستان ته په لاره له سنګیوخیلو سره لاس او ګرېوان شو.
حکومت د خپلي ناغیرئ له امله دغه پېښه سمه ونه څیړله نو لومړی شینوارو د اچین په ولسوالی برید وکړ، د کابل او پېښور لاره یې بنده او وتړله.
د افغانستان کورني او بهرني دښمنان چې داسي پېښو ته بې وهلي ولاړ ول، سیمې ته راورسیدل. په دغه وخت کې د جلال آباد تنظیمه رئیس شیر احمد خان وه، له یوې خوا هڅه کوله چې قومونه پخپلو کې وجنګوي او له بلې خوا برتانوي استازي "همفریز" له پاچا سره ولیدل چې پدې تړاو د هغه اند او نظر ځانته معلوم کړي.
له دې کړکیچ نه کورنیو او بهرنیو دښمنانو ګټه واخسته. په ځانګړي ډول هغو کسانو لا ډېرې لمسوني وکړې چې پاچا له رغاونو او سمونونو سره جوړ نه ول.
یو شمیر کورنیو او بهرنیو څیړونکو بیا بیا خپلي انګیرني غبرګي کړیدي چې برتانیا ښکیلاک د امان اله خان پر وړاندې له همغه مهاله چې ده خپلواکي واخسته، پدې لټه کې ول چې دی څرنګه له پښو وغورزوي؟ هغه وخت چې د خوست کړکیچ پیل شو، د انګرېزانو هڅي لا ګرندی شوې چې څو بیلګي داسي دي:
"ستیوارت" ددې خبرې پخلی کړیدی چې یو شمیر بهرنیو هیوادونو په سرکې برتانویانو هڅه کوله او یوشمیر څارګر یې دې ته ګمارلي ول چې د امان الله خان حکومت نسکور کړي. ستیوارت دا خبره هم سپینه کړېده او په ټینګار یې د ېته ګوته نیولې ده، ۲٦٦ ؛ مخ ... وایي کله چې "لارډ رابرتس" په کابل کې و، له خپلې ځانګړې دندې سربیره یې له یو شمیر مخورو کسانو سره لیدل او په ډېر مهارت به یې خپلې موخې پلې کولې.
دا ښکاره وه چې ټول دیني عالمان او ملایان د امان الله خان پر ضد نه ول، شمس المشایخ د پاچا له ټینګو ملاتړو او پلویانو څخه و.
همدا راز د ترنګزو حاجي صاحب، عبدالرزاق اندړ او نور بیلګي په توګه یا دولی شو. خو د یو شمیر لاسوندونو له مخې چې په لندن کې یو شمیر نندارتونونو کې لیدل شویدي، د سردار محمد ایوب خان دوه زامن محمد اکرم او محمد اعظم چې په برتانوي هند کې استوګن ول دې ته هڅول شوي ول (۱۹۲۷ د فبروري میاشت) چې په کندهار کې پاڅون وکړي. لکه څرنګه چې د دوی ترېورانو د سردار محمد یعقوب خان زامنو ته هم ورته سپارښتنه شوې وه.
انګرېزانو د پاچا د بیباوره کولو لپاره د خپلو الوتکو په وسیله خپل یو شمیر دپلوماتان او استازي له کابله ووېستل. په کابل کې د برتانیي د استازي "همفریز" میرمن پخپلو خاطرو کې کښلي دي: ما کتاب لوسته چې ناڅاپه د سفارت یو تن دیپلومات ؛ بي جي ګا ولډ ؛ راغی رانه یې وپوښتل: وزیر مختار "همفریز" چیرته دی؟ په باغ بالا کې د پام وړ پیښي تر سترګو کیږي. . .
"همفریز" په بله خونه کې د فرانسي له استازي سره ناست وو ... د خبرې په اورېدو، دی هم د باغ بالا لور ته متوجي شو، کتل مو چې شورشیان ډېر زر د سفارت مانۍ ته راورسیدل. او د سقاو زوې حبیب الله پخپله په دروازه کې له "همفریز" سره ولیدل . . .

"ستیوارت" پدې تړاو کاږلي دي چې: «له یوې خوا له شورشیانو سره د سفارت خواخوږي او له بلې خوا د پاچا او "همفریز" اختلاف ... د برېتانیې د لاسوهنې انګیزه لا پیاوړې کوي. . .»؛ وګورئ ٤٣٧ _٥٠٤ مخونه ؛

یو شمیر تاریخپوهان لکه د میر محمد صدیق فرهنګ په څیر داسې انګیري: هیڅ لاسوند شتون نلري چې "لارنس" دې د کومې څارګرې ادارې له خوا دې ته هڅول شوی وي چې کوم بهرني هیواد کې لمسوني کړې وي. . . موهمه دا چې "لارنس" د دې استعداد هم نه درلود او نه پدې تړاو کومې دندې ته ګومارل شوی وو.

پوهاند ډاکتر محمد حسن کاکړ ددې خبرې پخلی نه کوي چې فرهنګ وایي "لارنس" استعداد نه درلود ولې دی د ډاکتر "لودویک ادمک" له قوله کاږي: دی چې د عربستان "لارنس" په نامه یاد شوی او د لوی جنګ په بهیر کې عربا د عثماني امپراتورۍ پر ضد په بریې سره لمسولي و، هم هندوستان نه وېستل شو ... د هند حکومت هغه په کابل کې د برتانیې سفیر "همفریز" په ټینګه غوښتنه انګلستان ته ولیږه.

پوهاند صاحب او ډاکتر "ادمک" دده د اېستلو لامل ندی په ګوته کړی، خو یوه خبره څرګنده وه چې دی په عربستان کې دومره بدنام شوی و چې خلکو به دی د مسلمانانو یو ستر دښمن ګاڼه. ان تردې چې ده هم د یو شمیر نورو په څیر د مسلمانانو د نایووالي لپاره به ده عربانوته ویلې چې د مسلمانانو قبله په عربستان کې ده او د اسلام د خلافت دعوه د عثماني ترکیې واکمنان کوي؟

هره خبره چې وي وي، به خو لندن سنډې ایکسپرس مهالنۍ London Sunday Express په ١٩٢٨ کال د سپتامبر په دیارلسمه نیټه پخپلې دغې ګڼه کې په ډاګه دغه خبره سپینه کړېده چې "لارنس" د یوه پټ څار لپاره د افغانستان پولې ته ګمارل شوی وو.

دی دپیرې غونډې د افغانستان په ختیز کې یو ناڅاپه راڅرګند شو او باروتو ته یې تیلې وواهه، نو که بیا اېستل شوی هم وي، خو خپله دنده یې د برتانوي چارواکو په سپارښتنه تر سره کړې وه.

رویتر هم د ډسمبر په ٩مه ١٩٢٨ کال د شینوارو په پاڅون کې د "لارنس" دشتون پخلی کوي.

دا چې یو شمیر څېرونکي انګیري چې د برېتاني ښکیلاک نه غوښتل د بلشویکانو له وېرې د امان الله خان د حکومت په نسکورولو سره افغانستان بې ثباته شي یو څه راته د تامل وړ ښکاري.

انګرېزانو د یوې ټا کلې ولې کوټلي نخشې له مخې د امان الله خان د حکومت نسکورولو ته ژمن ول، که داد هر چا په لاس شوني وی. دوي له همغې شومې وسلې ګټه اخسته. ولې کوم اړودوړ چې د سقاو زوی له خوا رامینځته شو، هم یې د همغې اندېښنې له مخې پایته رسوه، دا ځکه دده دنده نوره پایته رسیدلې وه. دوئ غوښتل چې د خپل یوه متحد او پلوي پر مټ یو داسې باثباته حکومت چې په سیمه کې د برتانوې د واک او ځواک انډول خوندي کړي رامینځته شي.

د تاریخ پوه استاد کاکړ هاندې هڅې چې د تاریخ لیکنې په اړه کړېدې ستایم او دغه اثر چې یې په ١٦٢مخونو کې بشپړ کړېدی د پام وړ یوه لیکنه ده، چې درانه لوستونکي یې لوستلوته را بولم.

که چیرې څوک وغواړي یوه بې عیبه لیکنه وکړي لیکوال به نشي او که څوک غواړي بې عیبه ملګری پیدا کړي نو بې ملګري به پاتې شي. په پای کې استاد پوهاند ډاکتر کاکړ ته اوږد عمر غواړم دده د نورو لیکنو په هیله. د اوس لپاره همدومره. په ډېر درنښت.

**پای**